# د

# خوشحال خان خټک

# د ځلوریزو غورچاڼ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يو طلسم يې، بې اعتباره

له خاکه، باده، له آبه، ناره

اول هم هېڅ وې، بیا به هم هېڅ شې

په ځان خبر شه، د خدای د پاره

----

تیرا مې ولیده، راغلم تر سواته

پښتون مې ولید، دا لوی لوی ذاته

عقل همت مې، د چا نه ولید

په بېرته راغلم، ناست یم ملا ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرته غره ولاړ یې، په باد مغروره

حباب ته ګوره، بلا دې دوره

نیستي هستي یې، فنا کېدل دي

واړه ستا چار ده، درته حضوره

-----

چې په کې لوی شي، بې مصلحته

خونه خالي شي، له برکته

تر بد بخت زویه، نېکبخته لور ښه

فرزند دې نه وي، بې سعادته

------

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د شیخیه، نمط لرینه

شیخي دې کاندي، په ډېره سپینه

ځواني به ولې، ابته ځینه

ښه مخ دې ګوري، شراب دې څښینه

----------

څو تجربه نه کړې، خپل زویه، وروڼه

هومره د دیو، په کار مه موڼه (موڼل = وياړل)

زویه هغه دی، چې ځان څرګند کا

ګڼه بهتر دی له زویه، لوڼه

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو چې توانېږې، هومره نافع اوسه

تل تل د نېکو د خصلت واضع اوسه

سود يې تر جود تر کرم د پاسه دی

د خدای د پاره متواضع اوسه

--------

څومره دې خوا ده، وما ته ډکه

چې تشوې يې، په ما فلکه

هم دې پيري کړه، په ما تعيينه

هم دې مېرخې کړه، د مغول رالکه

----

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیران یم پاکه، پروردګاره

تا چې پیدا کړل، دا دواړه داره

محتاج هېڅ نه يې، د څه د پاره

دا هومره نقش، هومره نګاره

-----

خپله خبره، ده مرغلره

بې فکره مه وایه، خپله خبره

پند مې په یاد لره، که مې نېکخواه ګڼې

څو چې توانېږې، خبره نغره

-----

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواره حیرانه، بني آدمه

په هېڅ غمجنه، په هېڅ بې غمه

خاندې، وژاړې، وژاړې، خاندې

دا چار دې تل وي، له عمره سمه

--------

خواره حیرانه، بني آدمه

چې دې خمیر دی، خاورې له غمه

یو دم که وخاندې، په دا دنیا کې

بیا دې ژړا وي، په څو څو دمه

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا چې ډک وي، زړګی له رازه

که په ویل یې، نه کا خوله وازه

یا یې له خولې نه، څه بوی روان شي

یا به یې رنګ وي، د مخ غمازه

----------

د خپل غلیم سره، په توره جنګ کړه

نه چې ښکنځلې، د ښځو رنګ کړه

پرهار په زړونو، د ژبې مه بِده

د نامردی، له کاره ننګ کړه

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښو خبره ده، په هر چا فرضه

درته به وکړم، پوره دوه عرضه

د بدخواه ومنه، د ښځو مه منه

له مرګه مه تښته، تښته له قرضه

--------

د کوب و چوب دی، دا څو اقوامه

اوله عورته، واوره اې خامه

آسونه، خرونه، مریونه، ووړکي

بل رعیت دی، په دا تمامه

-----

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرد چې نه وي، لمن خيرنه

پاک وي په ژبه، پاک وي په ژمنه

که زر بلا وي، اندوه دې نه کا

فرښتې به واړوي، بلا له ده نه

--------

د ملوکانو د قرب بامونه

لوړ دي پرې مه خېژه، په ډېر ګامونه

که ناګهانه، ورځنې ورغړې

روغ به بيا نه مومې، خپل اندامونه

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه ښېګڼه، د ونو ګوره

خپل ځان په نمر کا، بل کا تر سیوره

په سنګ یې وولې، مېوه درواچوي

خصلت له ونې، واخله اې وروره

--------

سخا په هر چا، په خپلو لا ښه ده

په ښو ویلو، ژبه ګویا ښه ده

د ښو دلبرو، سره خندا ښه ده

خوشحال ختټک ته، دنیا په دا ښه ده

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردار ته بویه، دا یو څو خیزه

چې مېړنی وي، زما عزیزه

داد و دهش لري، دین و دانش لري

نه بې راستی وي، نه بې تمیزه

----------

ښځه چې ځوانه ده، هومره صحت ده

څو چې زړه ده، هومره زحمت ده

اولاد چې بد راوړي، مېرمن مه وینه

اولاد چې ښه راوړي، وینځه نعمت ده

------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه چې خلاصه وي، له هره عیبه

زړه یې خالي وي، له مکره، رییه

په مصلحت به یې، چېرته بیا مومې

مگر پیدا شي، چېرته له غیبه

-------

غضب ملوک لره، دروغ ملا لره

بخل غني لره، فحش نسأ لره

دا ځلور توکه، هرگوره بد دي

فکر چې راغی، په زړه کې ما لره

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

که راست گويي لري، پاکه عفيفه ده

که زرخريده ده، په ذات شريفه ده

که لور د پير ده، که دا يې نه وي

بده، کثيفه ده، گنده، خفيفه ده

-------

که سروري غواړې، د هرچا وړونی شه

پرده پوشي کوه، لکه پړونی شه

که بد گفتار دی، که بدکردار دی

چې عذرخواه شي، اواره کړونی شه

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

که سروري غواړې، اواره کړونی شه

پاره دوزي کوه، نه پاره کړونی شه

چې بد له تا وکا، په خرخ يې وسپاره

ته يې وکار ته، ننداره کړونی شه

-----------

که عقل ورک شي، له دې جهانه

هېڅ پاتې نه شي، اې زما جانه

هېڅوک به نه وايي چې زه نادان يم

هريو به ښه ګڼي، ځان له لقمانه

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مرد يې مه پرېږده مردي له دسته

مرد دی د پاسه، ښځه ده پسته

مرد چې تر ښځې، پورې زبون شي

مردي يې نيست شوه، ښځه شوه هسته

--------

که هر څو ښه ده، چې تېرېدوني ده

دنيا په پچه، نه پيرېدوني ده

که ښه کړې، ښه کړه، که بد کړې، بد کړه

کړده د هېچا، نه هېرېدوني ده

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بدي اوسپنې، کړه توره سازه

په غوڅول شي، بیا بد آوازه

که يې په مشکو، په عنبر کې ځای کړې

بدبوی به بیا ځي، له بده پیازه

-----------

له تا چې بیم کا، ورځنې بیم کړه

مه يې محروم کړه، مه يې ندیم کړه

په زور که هر څو، د ده د پاسه يې

حذر ترې بویه، کار د حکیم کړه

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهر نېکانو سره جاوید لره

تل زړه له دویو سره سفید لره

بدان که هر څو لایق د بدو وي

نه چې یکلخت یې محروم نومید لره

--------

نېکان عزیز دي، له خپله رویه

ښه کړه له بدو سره خوش خویه

په باغ کې هره ونه اوبه مومي

تروه ترخه وي، خوره خوشبویه

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفا ترې مه غواړه، دا دوه درې څيزه

چې بې وفا دي، زما عزيزه

يو آس، بل ښځه، که هر څو ښه وي

درېيمه توره، ورسره نيزه

---------

هند کې تورسکاڼ دي، له موره پلاره

پښتانه واړه سره سپين اې ياره

تاثير که تخم، آب و هوا لري

ته واړه وګڼه، له کردګاره

-----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بخت، بل عقل، دا دواړه څیزه

د مور له بطنه وي، زما عزیزه

که د ښنتن دی، که د مریی دی

که یې مېرمن لري، که یې کنیزه

----------

آزار د خولې دی، آزار د لاس دی

له دواړو خلاص دی، هغه چې ناس دی

سړی به نه وي، هغه به دد وي

چې په دا دواړه، توکه الماس دی

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

امید که گورې، بهتر د بیم دی

عطا پرې مه نیسه، که دې غلیم دی

چې له اعدا سره، په مدارا وي

دا کار د چا دی، کار د حکیم دی

-------

اې چې حکیم و علیم دې نوم دی

ورکړې اخلې، کار دې معلوم دی

شیرین ژوندون دې، وربانديې تریخ کړ

خوشحال چې نه وژنې، حکمت دې کوم دی

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلبل د ګل دی، ګل د بلبل دی

بلبل هورې غواړه، هورې چې ګل دی

مینه به پټه، د هېچا نه شي

خپل بوی د مشکو، په ځان چغل دی

-------

بنیاد د چارې، په مصلحت دی

بیا د مردانو، په ښه همت دی

چې سره یو شي، دا دواړه توکه

واړه دولت دی، عزت، حرمت دی

------

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خصلتونو کې، عدل، انصاف ښه دی

له ښو، له بدو، سره زړه صاف ښه دی

چې څوک دې غاښ مات کا، ته یې هم غاښ مات کړه

که عذرخواه شي، غاښ یې معاف ښه دی

--------

څوک چې آشتي غواړي، که دې غلیم دی

«والصلح خیر» ځای د تسلیم دی

عفوه بهتره تر انتقام دی

نېکي په بدو کار د کریم دی

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال که هرڅو، فاجر، فاسق دی

عیب یې مه کړه، شیخه! عاشق دی

چې پارسایان دي، په خپل خدمت ځي

د خدای د فضل، فاجر لایق دی

---------

خوشرنګ تر بازه، مرغ زرین دی

باز مې په قدر کې، ترې صد چندین دی

څه شو که لوی لوی، وزر پرې پورې وي

کرګس کرګس دی، شاهین شاهین دی

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور پرېښونه، شرم پيغور دی

هر ځای چې وزېږي، هغه دې کور دی

په هر هر کال يې، په ځاله تاخت کېږي

هغه شاهين دی، هغه يې کور دی

-----------

د ما د يار، په ياری کار دی

که مسلمان دی، که زنار دار دی

که مهر مينه وفا راستي لري

نور څه يې مه ګوره چې پوره يار دی

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی که ښه دی، په ښه ګفتار ښه دی

ګفتار که ښه دی، په ښه کردار ښه دی

ګفتار صورت ګڼه، کردار معني دی

چې سره یو شي، دا دواړه کار ښه دی

-----

سل دوستان لږ دي، یو دښمن بد دی

چې ډېر دښمنه لري، ځای یې لحد دی

په ښه سلوک سره، پردي خپلېږي

چې خپل پردي کا، کله بخرد دی

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښایست د ښځې، د مار یکسان دی

ظاهر یې مه ګوره، باطن یې وران دی

ښځه په زړه کې، څو څو بلا لري

که مار په خوله کې، د زهرو کان دی

------

ښکاره په هر څه، د چارې بند دی

قدر له ښځې، د مرد دوه چند دی

ځینې سړي دي، چې ډیره بربڼ لري

جوړ یې له ښځې، سره پیوند دی

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل د مځکې یا د آسمان دی

چې دواړه نه لري، هغه حیوان دی

عقل د مځکې، د مور د نسه دی

چې د آسمان دی، د دبستان دی

---------

نی چې واهه شي، وایي عذاب دی

چې غیبتونه کړي، مګر ثواب دی؟

غیبت تر زنا نه تېری یادېږي

نی منع شوی، په کوم کتاب دی؟

-----

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې لمونځ نه کا، که دې خپل پلار دی

ادب يې هېڅ مه کړه، په دين کې خوار دی

پرېږده چې ومري، زړه سوی پرې نه بويه

که په فاقه کې، ليل و نهار دی

---------

هندو چې بت وته هسې نسکور دی

مومن مخ ايښی د کعبې په لور دی

دا دواړه توکه، رسم و عادت دي

ويده عالمه، مطلب څه نور دی

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنر چې نه لري، که مې پسر دی

چې څوک يې ياد کا، درد مې د سر دی

که بېګانه وي، چې يګانه وي

يا مې لېمه دی، يا مې ځيګر دی

---------

بار د اوښانو په خرونو لېښ نه شي

جام د مستانو په صوفيانو څېښ نه شي

د ويښ له حاله ويده خبر نه دی

څو چې له خپله خوبه نه راويښ نه شي

-----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانهٔ که هر څو د سترګو زېب لري

چې ورکارېږه شي، بلا آسېب لري

زویه که ښه دی، تور دی د سترګو

زویه که بد شي، ماران د جېب لري

--------

اور وړانده ته په تاو مفهوم شي

وسترګور ته څرګند معلوم شي

هغه چې پرېوځي واور ته رنګ واخلي

هر څوک خبر دی چې اور یې نوم شي

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدخواه دې کوم دی، چې دې په بدو وياړي

نېکخواه دې کوم دی، چې دې بهبود غواړي

که هرڅو خوی د پرښتو حاصل کړې

له چا به ته ژاړې، څوک به له تا ژاړي

--------

بته تل لامبي، اوبه تل مومي

بدبوی يې ولې، له تنه درومي؟

بدبوی يې ځکه درومي له تنه

هره بلا ځي، د دې تر کومي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې مې سلام دی، هغه چې مې خوري

خدای یې دارو کړه که په دود یې دی خوري

اول خلوت، بیا ښه صحبت بویه

مې دې په صوت د چنګ و نی خوري

--------

پنځه دې ګوتې دي، که یوه نه وي

د نورو ګوتو، چار به دې څه وي؟

د لاس خوبي ده، په پنځو ګوتو

چې سره جوړې وي، کار به دې ښه وي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

پونډه په اور کې، ګونه ګونه شي

کاڼی په اور کې، ګچ یا چونه شي

عادت به هېڅېږي د ناکس نور نه شي

که اور یې پورې په درونه شي

---------

په باغ په راغ کې، کرل هرڅه شي

په خپل خپل اصل، بیا واړه وشي

که لویول یې په شودو پی وي

مولی مولی ده، نور څه به نه شي

-----

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله پوهه، که ذوفنون وي

ویل چې نه مني، په کې جنون وي

دولت ته ورسي، تینګ يې ونه نیسي

قابل يې مه ګڼه چې، په رای زبون دی

--------

په دا به پوه شي، هغه چې کس وي

ډېرې رمې لره، يو شرمښ بس وي

چې يو بخرى، د اور پيدا شي

په مخ يې وړى، انبار د خس وي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رنګ په خوی کې، سره پرخې وي

په مرتبو کې سره تېرې وي

يو سيند تر بله پورې لکه لښتې وي

يو غر تر بله پورې لکه غونډۍ وي

---------

په زړه کې څړيکه، د ښکاري ولاړه شي

هی هی ناري وهي، بوړه يې غاړه شي

چې سره ونښلي، د ښکار بازونه

زرکه د دواړو، له منګولو ولاړه شي

-----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سرېټوب کې، واړه يکسان دي

که مومنان دي، که کافران دي

ايمان د چا دی، د مومنانو

ايمان يې نشته، چې کافران دي

------

په مخ که هر څو، صاحب جمال وي

ننه په زړه کې، افعي افعال وي

که زر تسبيح لولي، باور پرې مه کړه

ښځې مې واړه، د مکر جال وي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

تازي چې زوړ شي، په قدر خر شي

مزرى چې زوړ شي، تر شغال بتر شي

زوړ دې دماغ، د ځوانى نه كا

په دا ويل دې، هر څوک خبر شي

-----

جهان كه واړه، سره اوبه شي

دا دوه بېړى به په ډوبه نه شي

يوه بېړيه چې څوک رښتينى وي

بله چې وړي په چا ماړه شي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بد اندېش وي، چې بد آموز وي

چې بد ګويي لري، واړه بد روز وي

که ته لويي غواړې، لويي په چا مه کړه

نېکان په دواړه، کونه فېروز وي

--------

چې ترس د خدای لري، مرګ يې په ياد وي

زړه به يې کله، په ظلم ښاد وي

تل به يې مټ وي، په ښو ښو چارو

مخ به يې هرکله، په عدل و داد وي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې څوک سوګند کا، کار یې څرګند وي

سر د دروغو، زر زر سوګند وي

سوګند به خوري، چې راست ګویان وي

د دروغجنو، سوګند کمند وي

--------

چې خوی یې نه وي، صورت زیبا لري

لکه ښه لوښی، خالي غوغا لري

ښه مخ په مثل، لوښی د زرو دی

ښه خوی په لوښي کې، خوږه حلوا لري

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تازي سره، د ټټو رګ وي

کله تازي غونديږي، په لار يې تګ وي

رنګ ته يې مه ګوره، عمل يې ګوره

که سور که سپين وي، که تور که برګ وي

-------

چې درست په مشک و په عنبر ډوب وي

چې په ګنده ګۍ ککړ شي، خوب وي

قران چې لولي، هرګوره بد کا

چې بيا په فسق و فساد معيوب وي

------

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ذات یې بد وي، اصل ناپاک لري

گنده به فعل، گنده به ژواک لري

زاغ و زغن گوره، بلبل، توتي گوره

خپل خپل پرواز کا، خپل خپل خوراک لري

---------

چې سر یې خوږ نه شي، سړی چې داغ کېږدي

هرڅوک پوهېږي، ځان ته بلا ږدي

له چا چې جنگ کړې، روغه په زړه لره

هوښيار په جنگ کې، د روغې ځای پرېږدي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې که وینځې وي، لکه مېرمنې وي

ځینې مېرمنې د وینځو کنې وي

عقل هنر بویه، په آدمزاد کې

مېوه چې ښه لري، قدر د ونې وي

---------

څو دا جهان دی، دا هسې تل شي

خپل دې پردی شي، پردی دې خپل شي

د بل وي، ستا شي، په یوه دم کې

هغه چې ستا وي، هغه د بل شي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې ډوډی، د دهقانی خوري

خواږه د حورو، د مهمانی خوري

چې یې په ظلم خوري، واړه یې زهر شه

که شولانونه، د سلطانی خوري

--------

خپل بد خویونه، بد خوی هنر ګڼي

په ځان که خاورې وي، خاورې هم زر ګڼي

په ځان چې څه وي، بل هم هغه ګڼي

یو چې کافر وي، بل هم کافر ګڼي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله زوړ شوې، سړی چې زوړ شي

د مهوشانو، له مينې موړ شي

ته څو زړېږې، لا مېين کېږې

زړه به دې کلهترې موړ يا سوړ شي

------------

دا يو څو توکه د وقوف دار دی

باز د مير ښكار دی، زر د تجار دی

كتاب د چا دی؟ د دانشمند دی

ښځه د مرد ده، مښک د عطار دی

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بادشاهانو چې امرګان دي

د یوه بحر ولې شان شان دي

ویاله چې لویه وي، که کم لښتی وي

اودس پاکی لره، واړه یک سان دي

----------

د بیم په ځای کې، سړی ملا وي

چې یې امید وي، هورته خوشحال وي

هغه په خړو اوبو نظر نه کا

چې تل یې بخره آب زلال وي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا چې د ننه، سینه په درد وي

دمه یې عینې په آه سرد وي

که مرد د لاندې وي، ښځه د پاسه

په دواړه توکه، ظفر د مرد دی

----------

د ځان دښمن دی، دښمن چې یار ګڼي

دښمن چې یار ګڼي، مرګ دې تیار ګڼي

هوښیار به ځان، د نادان په شمار ګڼي

نادان هغه دی، چې ځان هوښیار ګڼي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلې خونې، دېوال که کوږ وي

د خپلې خونې، په خښتن خوږ وي

زیست و روزګار یې، په کې خوندي وي

لوښی کالی یې، په ده کې بوږ وي

--------

دروغ د چا دی، د کم ذات، د وږي

یا د کمزوري، په قوت لږي

چې دا یې نه وي، دروغ به ولې کا؟

دروغ چې کاندې، خوږ وي په سږي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغ وعده دې، په ما رښتیا لګي

ترخه د ښکلیو، لکه حلوا لګي

د ښهو ناوک دي، په نورو نه پسندم

پرېږده چې واړه، په زړه زما لګي

------

دریاب چې لوی دی، هومره هوار درومي

شور و غوغا نه کا، په څو کرار درومي

سېلاب په څو خاشکي، غږ پرږ کا

بقا يې نه وي، په ډېر تلوار درومي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرونو کاڼي، تر حساب تېر دي

څه واړه کاڼي، د لال په څېر دي

که اهل ووینم، زه به ترې ځار شم

اهل څوک نشته، نااهل ډېر دي

----------

دنیا څو ډېره، هومره یې غم ډېر وي

چې نه وي، نه خورې، هم یې الم ډېر وي

هستي نیستي یې، دواړه بلا دي

خوبي یې دا ده، چې ورته کم ډېر وي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن ونې، چندڼ اگر دي

خاورې یې واړه، مښک و عنبر دي

که سرای و نورو وته سنگېړ دی

کاڼي یې واړه، ما ته سره زر دي

---------

ډېر دي چې ډېرې د شیخۍ بوسي

ډېر دي چې می خوري، رندۍ کې اوسي

بنده د چا یم؟ د هغه کس یم

چې یې نیولې، تر سره یوسي

-------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرشوی د زرو، په حال خبر وي

چې چېرته خېژي، په کوم مقر وي

زر به په سپينو شګو کې نه مومې

شګې يې تورې، تر خاکستر وي

------------

زوړ که بادشاه وي، که اوليا وي

د ځوانې ښځې، ځنې بلا وي

زوړ يې که هر څه، د ځان مزدور شه

د ځوانې ښځې، نوره هوا وي

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

زویه هغه دی، چې خوی د باز لري

لوی لوی ښکارونه، لوی لوی پرواز لري

نه خوی د چرگې، نه خوی د زاغ کا

چې ځان د غولو، خوراک ته ساز لري

-------------

ډېره دې کله، د پښتانه شي

چې د مغول په، منصب یې زړه شي

مغول کمزوری، غلیم بې رحم دی

کله یې زړه وي، چې پښتون ښه شي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېره غاښونه مې، جدا جدا وايي

ځواني دې ولاړه، راته همدا وايي

چې چا ته وګورم، يا چا ته وخاندم

راته دادا وايي، کاکا، بابا وايي

---------

سترګې چې نه وي، مخ به پساله نه شي

خوی يې چې بد شي، د خپل کاله نه شي

فهم که وکړې، دا حال به ووينې

عيب چې ډېر شي، عيب باله نه شي

----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخ د هغو دی، چې بې خبر دي

بې غمه خوب کا، په خوب و خور دي

روزګار په غم دی، د خبردارو

چې په زرګونو، فکرونو سر دي

----------

سخي که لک ورکا، وده ته کک وي

بخیل که کک ورکا، وده ته لک وي

د هغو ورکړه، په ورکړه مه نیسه

چې ورکا زړه یې، له غمه ډک وي

-------------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي په اصل، سره يکسان دي

که چوهړي دي، که بادشاهان دي

فرق يې په فعل، په خوی هنر وشو

ځکه دوی هسې، سره شان شان دي

------------

سړي په خپلو، سره بې غمه وي

ونه په خپلو، ولیو محکمه وي

د چا چې نه وي، خپل زويه، ورونه

سيالي يې کله، له سياله سمه وي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې په مثل، کاڼي د کوه دي

په څو څو رنګه، ګروه ګروه دي

چې جواهر دي، په کې کم کم شته

نابود بدرنګ يې، انبوه دي

---------

سړی چې ځوان وي، د جونو ځان وي

زور يې په ځنګ کې، لکه سوهان وي

زاړه که ښه کا، جونه دې نه کا

جن دې هاله کا، که دی سلطان وي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی چې زوړ شي، زبون په تن شي

حواس يې نور شي، په زړه هېرجن شي

لطيف خواړه دې خوري، دخول دې کم کا

که کا نوخيزه، چې پرې مېين شي

--------

سړی چې زوړ شي، ورنځ ته جوړ شي

که ډېر هوښيار دی، په عقل بوړ شي

چې بې ايمان وي، حرص يې زيات وي

که ايمان دار وي، له هر څه موړ شي

------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی چې ولامبي، په اوبو پاک شي

سپی لا بدبوی شي، چې څو نمناک شي

احمق چې ولولي، څو کتابونه

په څه خو لوسته، یاوه کاواک شي

--------

سړی که زوړ وي، ښه زویه ځوان لري

څه به اندوه لري، څه به ارمان لري

د پلار ښه زویه، دوباره عمر دی

بد زویه پلار لره، بلا شان شان لري

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی که وړونی شي، آواره کړونی شي

د لویو لویو، بخرو به وړونی شي

راشه په خپلو، سترګو یې وګوره

فایده یې کومه ده، سپی چې خوړونی شي

-----------

سړی هغه دی، چې نوش و نېش وي

نه بدګویي لري، نه بد اندېش وي

په هره چاره کې، همت په ځای لري

که مال و ملک لري، که خوار درویش وي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

سګان د بدر، له نوره جنګ لري

ګونګټې د مښکو، له بویه ننګ لري

سره زر څه نور څه دي، زرنیخ څه نور دي

څه شو که بریښي، د زرو رنګ لري

--------

سهیل چې وخېژي، اوړي تمام شي

ژېرمه د ژمي، د سر انجام شي

په اته میاشتې، هسې هوا وي

چې د ځوانانو په کې هر کام شي

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاهان بل اور دي، چې هر څه نغري

اعوان سکروټې، د اور بڅري

چې يو بڅرى، ځان ته پرې نه ږدي

هوښيار به تل وي، واور ته ځري

------

شرم يې نښته، ښاروي خو ډار لري

نه هومره مهر، په مور په پلار لري

فرق د سړيو، ښارويو هومره دى

چې شرم مهر په خپل مقدار لري

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه چې ډکه شي، که کېني مار راوړي

مار ښه، نه زویه، چې ناهموار راوړي

ګل چې نه رنګ لري، نه بوی ښه کاندي

ښه دا چې ونه، بوټي خار دار لري

---------

ښځې په اصل، کرېږې ناسمې دي

په عقل کمې، په دین هم کمې دي

شومت یې اور دی، چې چېرته لګي

په دم پېری، په دم آدمې دي

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې د هېچا، په رګ ريشه نه دي

څرګنده چر ده، وفا پېشه نه دي

په خپل مقصود دي، په غرض سود دي

په نورو چارو کې، همېشه نه دي

--------

ښځې ښه څيز دي، که په مخ ښکلې وي

له موره پلاره، پاکې زوولې وي

که دا يې نه وي، زر دې په ګور شي

چې نه ليدلې، نه چا کتلې وي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې طرارې دي، ښځې مکارې دي

ښځې مکارې دي، ښځې طرارې دي

که هر څو يارې دي، ښځې اغيارې دي

ښځې اغيارې دي، که هر څو يارې دي

----------

ښځې له ځايه، په عقل کمې دي

سمې به نه شي، پيدا ناسمې دي

وفا ترې مه غواړه، په ياری يې مه وياړه

که دې محرمې دي، که نامحرمې دي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې هغه ده، صفت یې ښایي

په هر هر ځای یې، وګړي ستایي

هغه د ښکلیو، په شماره نه ده

چې د کور ږمه یې، ستاینه وایي

-------

ښه به ترې څه غواړې، هغه چې تل بد وي

هم په بازل بد وي، هم په ساتل بد وي

د بل علاج وشي، د خپل علاج نه شي

چې دي بدخواه شي، تر بل نه خپل بد وي

-------

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه خوی، بد خوی کېږي، بدخوی، ښه کېږي

په صحبتونو که څوک پوهېږي

نافه د هوړېږ، په بوی خوشبوی شي

حنظل شکرو سره خوږېږي

---------

عشق چې په خپلو، موجونو سر شي

تر اباسینده، لا زورور شي

بلا یې لیرې، هر څه په مخ وړي

چې کاڼي بوټي، په مخه ورشي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشقه ستا واړه، چارې اوترې دي

چې زورور يې، واړه بهترې دي

تر مرګه پورې، سره نظر لري

ځلمي بازونه، جونې کوترې دي

----------

عفو کرم دې، په هر چا عام نه وي

په کس ناکس دې، دا کار مدام نه وي

کس چې خطا وکا، باندې عطا بويه

ناکس لا بد شي، چې انتقام نه وي

------

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر که ډېر شي، بيا دې هفتاد شي

تر دا د پاسه، لکه رماد شي

چې د ځوانی، ساعت راياد شي

په هر زمان مې، پسې فرياد شي

---------

غشي چې ډېر ولي، ښه تيرانداز شي

چې مشق د خط کړي، وخط ته ساز شي

کار د محنت دی، د مشقت دی

ورو ورو په هر هر، هنر ممتاز شي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

غشی چې راشي، په واړه تن لګي

ګوره رسا لګي، که برسېرن لګي

بده خبره تر غشي بده ده

د زړه په سر باندې د مرد و زن لګي

-------

غشی چې سم وي، ګوزار پرې ښه کېږي

چې ښه سم نه وي، ګوزار پرې نه کېږي

راستي په هرڅه کې، لکه سره زر ده

په لاس که زر لري، په زر هر څه کېږي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

غشى د ټينګې، لنيدې خطا شي

د نرمې سستې، ګوزار رسا شي

ښه تېره توره، په لاس کې واوړي

د پخې تورې، ګوزار بلا شي

----------

غليم هوښيار ښه دى، که مرګ دې غواړي

ډېر به تر جنګه، په آشتۍ وياړي

هوښيار چې نه دى، غليم يې مه ګڼه

پرېږده په خپله، به خپل ځان وژاړي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم به د دین خوري، چې مومنان دي

دا نور غمونه، واړه اسان خوري

چې دین یې نه وي، که په تخت کېني

ښادي یې غم ده، که بادشاهان دي

----------

غم چې په زړه کې د دلارام لري

ګرم دی که فکر، د ننګ و نام لري

چې یار یې څه وي، هسې دې دی وي

که دین د کفر، که د اسلام لري

---------

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتنې د ښځو، هرګوره ډېرې دي

په شیطانۍ تر، شیطانه تېرې دي

لکه لټکه، هسې ټکي لري

زهر په خوا کې، ښکلې برسېرې دي

--------

فرزند که ښه، د سترګو نور شي

د سترګو نور شي، د زړه سرور شي

فرزند که بد شي، غاښ دې رنځور شي

غاښ چې رنځور شي، نو د امبور شي

--------

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرزند که هرځو، د پلار عاصي شي

چې پلار ته پرېوځي، بیا په خلاصي شي

خدای په بنده باندې، لا ډېر مېین دی

له هر ګناهه په توبه خلاصي شي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**